## له شخړې وروسته بیا جوړونه:

په داسې حال کې چې شخړه دوام لري، د بشردوستانه مرستو سمون - اساسي خواړه، کور او طبي خدمتونه - ملي او نړیوال کارونکو لپاره د وخت یو ضرورت دی. د سولې د موافقې یا نوري پیښې چې د جنګ رسمي پایله جوړوي، له شخړې وروسته بیاجوړونه رامنځ ته کوي. سترې دوه اړخیزې یا څو اړخیزې د نمایندګۍ د ملي حکومتونو سره د کارکولو لپاره اود بانکې زیاتره برخه د ټولنیزې او اقتصادی بیا جوړونې د اداره کولو او ننګولو لپاره راځي. له جنګ څخه سولې ته اوښتنه هواره لاره نه ده. زیاتره ،،پیړنۍ مرسته ، د بیارغونې کار او دپرمختګ مرستې سره یوځای کار کوي او ځای اوسیږي.،، کله چې د سولې تړونونه عملي شي او نظامیرغل چپ شي (پرشاشي)، د بیړنۍ مرستې ځای اوږد مهاله ټولنیز او اقتصادي پرمختګ نیسي.

د نړیوال مرستندویانو ترمنځ، یو پراخه تفاهم دادی چې په ګړندي له شخړې وروسته پړاوکې ټولنیز او اقتصادي بیارغونه - چې زیاتره د انتقالي پړاو په نوم یادیږي _ نه یواځې د بیانښتې او شخړې مخنیوی کوي، بلکې د اوږد مهال پرمختګ لپاره به یو اساسي ګام ګڼل کیږي، په ۲۰۰۲ م کال کې د نړیوالو عمل کوونکو یوې اتحادیې، د بیړنی او نړیوال مطالعو مرکز په شمول، له شخړې وروسته بیا توړونې د کار چوکاټ جوړ کړ د کار چوکاټ د ،،یرغلیزو شخړو ځنډ او عادي حالت په بېرته راتګ، د فعالیت درې پړاوونه څرګندوي. څرنګه چې تېرېدنکی او تل پاتې نه دی، هغه پړاوونه (چې لاندې یادشوي) د لومړیتوب حق څرګندوي او له جنګ څخه سولې ته داوم بیانوي

۱-لومړنی ځواب ژرترژره وروسته له پراخه تېري اوریدل کیږي او د ګړندیو بشردوستانه خدمتونه ثبات او نظامي مداخلې له سمبالولو څخه په نښه (بنودل ) شوي چې اساسي امنیت خوندي کړي. په سطحه، ته دغه رازغبرګون کې د سوله ساتونکو پرمختګ شامل دی ( د سولې د مرستې عملیاتو څېرکی وګورئ ).

۲-انتقالی یا بدلون پړاویوه داسې موده ده چې په هغې کې مشروع او قانوني محلي ظرفیتونه چې ملاتړ یې بایدوشي، د ځانګړې پاملرنې سره چې د اقتصاد د بیاپیل لپاره ضروري ګڼل کیږي، چې په کې بدنې بیاجوړونه، د اداره کولو او قضایي عملي شاملې وي، او د ټولنې اساسي هوساینې د سمبالولو لپاره - لکه زده کړه او روغتیایي پاملرنه، بنسټونه جوړوي، څرګندیږي.

۳- وروستی پړاو یا هغه موده چې په کې جاري ساتل یوه وخت دی چې د بیالاس ته راوړنې هڅې باید راغونډې اوغښتلې شي چې د شخړو بیا را منځ ته کېدو مخه ونیسي، نظامې عمل کوونکي _ په ځانګړې توګه نړیوال سوله ساتي _ ووځي او ټولنه وکړای شي ددې پړاو موده کې، عادي کونه پیل کړي.

د ځایي خلکو رول له شخړې وروسته په بیا جوړونه کې ډېر د نړیوال سترو عمل کوونکو په راتګ سره تت او پرکاله شو، خو بیا هم د ډاډ شته چې ځغلنده او اغېزمنه بیا جورونه په پراخه اندازه د ځایي خلکو ژمنې او ظرفیتونو سره د ملي حکومت او مدني ټولنې په شمول ، تړاو لري ترڅو چې دا پروسه خوندي وساتي . نړیوال عمل کوونکي (ایکټران) په پراخه اندازه د شریک په توګه د بیا جوړونې هڅوکې ځایې موسسو ته ځان رسوي . تراوسه پورې، ډېرې ښځې اود پام وړ ډلې د بیا لاس ته راوړنې په لومړي وخت کې له پامه غورځول شوې او وېستل شوي دي .دا څېرکی که څه هم قاطع نه دی، خوبیا هم د نړیوالي ټولنې پالیسیو او کارکولو عمومي سوې ، له شخړې وروسته بیا جوړونه کې وړاندې کوي . که په پراخه اندازه ووایو، په دې کې د امنیت په ګوته کول ، د اداره (حکومت) کولو او قضایي موضوعګانې همدارنګه اقتصادي پرمختګ او ټولنیز سوکالي شامل دي . په هرحال ، څرنګه چې د دې کتاب ګوتي او نور څېرکي ډېرو مسُلو ته وقف شوي ، دا څېرکی پر اقتصادي بیا خپرولو زیاته تکیه کوي . هغه پر ښځو د پالیسیو او پروګرامونو ، پر ننګونو او چلینجونو او فرصتونو چې په ټولنیز او اقتصادي سمون کې ورسره مخامخ

**کېږي، هغه چې د دوی اړتیاوې پوره کوي ، او هغه لارې چې د ښځو موسسې دغه ستونزې له مخه وړي، ټینګار کوي .**

**۱ـ اقتصادي بیا لاس ته راوړنه او بیا جوړونه څه شی دی؟**

**په ټولنیز او اقتصادي بعدونو (اړخونو) کې د ټولنې کارېدونکي توکي شامل دي ، چې په کې :**

- **دننه امنیت بیا پیلولوکې د شړل شویو خلکو بیا بشپړول او د پخوانیو جنګیالیو بې وسلې کول او بشپړونه شامل دي (اړوند څپرکي وګورئ) .**
- **اداري او اداره کولو ظرفیتونو غښتلي کول (د اداره کولو څپرکی وګورئ) .**
- **د ودانیو فزیکي ترمیمول، د کورجوړول، سړکونه او پلونه د اوبو بیا په کار اچول، برق او د تیلو سمبالول، د ښځو ترمیم، بازارونه (مارکېټونه) او روغتونونه، د کارمندانو ګومارل او دهغو روزنه او سمبالول چې د کارولو او حفظ او مراقبت لپاره ضروري دي، شامل دي**
- **د فعال مالي جوړښتونو ایجادول اود اقتصاد بیا جوړول په دې کې د بانکدارۍ اومالي سیستم د باور پیداکول، مالي پلانول او بودجې، د دودیزې کرښې یا کلیوالي او اوسنۍ صنعتونو اقتصادي نقشې بیا پیلول ، او د یو چاپېریال ایجادول چې د عایداتو او اقتصادي ودې د نویو سرچینو خپرونه سمبالوونکي وي . هغې کې همدارنګه د پورونو او بښنو برابرول چې د سوداګرۍ یا نویو جرأتونو ، د مهارت روزنه ، د نویو صنعتونو او سوداګرۍ پرمختګ، او د جرمونو کمول او پر غوره اقتصادي برخو کې د وسلوالو عمل کوونکو کړنې کنټرول شي، شامل دي .**
- **د داد وړ او کاري قضايي سیستم ایجادول، چې په کې د قانون جوړول، د محکمو سمول اوقضايي پروسې، د کارمندانو ګومارل ، د روزنې سمبالول او د ملي قانوني سواد زده کړې نوښت، شامل دي (د انتقالي قضايي او د بشر د حقونو څپرکي وګورئ) .**
- **د ټولنې سوکالي چې په کې د خلکو روغتیايي پاملرنې اړتیاوې شامل دي، ( لکه د خوراک ډاډګېرنه، ټولنیز او اساسي خدمتونه تیارول او د زده کړې د سیستمونو بیا ودانول) .**

**دا روښانه ده دغه موضوعګانې د شخړې وروسته ځای پر ځای کونه بې ساری نه دي ، خو د شخړې پړاو کولای شي لومړي عمل کوونکي د زیاتې ضروري مرستې ډول اوڅه کېدای شي سمبال شي ، ټاکلی شي .**

**۲ـ له شخړې وروسته بیاجوړونه کې څوک او څه شی شامل دي؟**

**هغه ټولنې چې له شخړې زیږي، د ډېرو نړیوالو مرستندویو د اندیښنې لامل شوي دي، انګېرنه دا ده له هغه راهیسې چې جنګ ختم شوی، سوله ، په ځانګړې توګه دوامداره سوله، په اسانۍ نشي راتلای بوړنوونکی غربت ، رواني نژادي ، سیاسي یا مذهبي سیالي، د وسلې زیاتېدل ، د حکومتونو نه موجودیت او ودانۍ ټول ډېر زیات ګواښونه دي چې کولای شي په اسانۍ سره یو هېواد جنګ ته وهڅوي .دې سره سم او د زیاتو چلینجونو او ننګونو سره سره، له شخړې وروسته موده د هیلواو فرصتونو موده هم ده له کلونو یا ان له لسیزو جنګونو وروسته، دا یو وخت دی چې مالي او تخنیکي سرچینې شته چې د جنګ ریښې څرګندې کړي او د یو ملت راتلونکې په ګوته کړي .**

**په نړیواله کچه، یوه ډاډګېرنه شته چې په ډېرو قضیو کې د سولې ګټل د جنګ له ګټلو څخه ستر ګواښ دی چې د ملت ابادول یوه پیچلې او اوږد مهاله پروسه ده، دا مفهوم هم شته چې یواځې یوه موسسه نه شي کولای هره موضوع یا مسئله په ګوته کړي .**

**عمل کوونکي (ایکټرز)**

**زیات شمېر غوره عمل کوونکي چې له شخړې وروسته بیا جوړونه کې شامل دي، په لاندې ډول لیست شوي دي. که څه هم په ډېرو موضوعاتو کې، چې یادونه یې وشوه، دوی د جنس اصلي بهیر او د ښځو پیاوړتیا په اړوند ټاکلې پالیسی لري، دغه پالیسی د سیمې په سطحه په اغیزمن ډول کارول شوي نه دي**

۱- د نړیوال ډله - له پنځو موسسو څخه جوړه شوې او د غړو هېوادو له ۱۸٤ حکومتونولخوا پر مخبېول کېږي چې متحده ایالتونه يې ستر برخوال دی چې یواځې ١٤ فیصده رایې په واک کې لري . په هغې کې لاندې موسسې شاملې دي:

- د بیاجوړونې او پرمختګ لپاره نړیوال بانک I.B.R.D، چې د منځنی عاید لرونکو هېوادونو په پورونو، ضمانتونو او مشورتي خدمتونو تینګار کوي؛
- نړیواله انکشافي اتحادیه IRC ، چې د نړۍ ۸۱ ډېر بې وزله ته بې ګټې(بې سوده) پورونه برابروي.
- نړیواله مالي اتحادیه IRC، چې د شخصي سکټور د مرستې په واسطه اقتصادي پر مختګ پیاوړی کوي؛
- څو اړخیزې پانګې اچووني د تضمین نمایندګي، چې د سوداګرۍ زیانونو پرضد (د جنګ خپلو له امله) په نیستمنو هېوادونو کې بهرنۍ پانګه اچول هڅوي؛ او
- د پانګې اچولو شخړو د سمون لپاره نړیوال مرکز (ECSID)، د شخړو په صورت کې د منځګړیتوب خدمتونو له لارې د بهرنۍ پانګې اچووني، هڅوي په مشخص ډول، نړیوال بانک IBRD او IDA ته منسوبېږي، عامل مدیریت په هر هېواد کې د خپل دفترونو لارښودنه کوي او لومړنۍ مسوولیت يې د هېواد مرستندویي ستراتیژۍ CAS پرمختګ دی، CAS یو درې کلن پلان دی چې د پانګې اچولو، تخنیکي مرستو او د بانک فعالیت له پاره د لومړیتوب سیمې تشریح کوي.

۱۹۹۰ لسیزې راهیسې، نړیوال بانک په زیاتیدونکې توګه له شخړې وروسته د مرستې په فعالیتونو کې بوخت دی. د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۸ کلونو ترمنځ د بانک پرشخړې وروسته هېوادونو په ۸۰۰ فیصده پور زیات شوی، چې د هغه د بانک د ټولې قرض ١٦ فیصده تشکیلوي. ډېر وروستي (اوسنۍ) ارقام ښيي چې تر شخړې وروسته هیوادونو ته د نړیوال بانک ډیور ورکولو مرسته ۲۵ فیصده ده ؛ په ۲۰۰۳ م کال کې٥ ،۱۸ بلیونه ډالرو ته رسېده. په یوه برخه کې، دغه لوړېدا د ساړه جنګ له ختمېدو وروسته د شخړو د زیاتیدوله امله رامنځ ته شوي او هم د هغوهېوادونو د زیاتېدو له کبله چې د ترشخړې وروسته کلونو کې کټګورۍ شوي دي. خو همدا ډول زیاتوامې په داسې شرایطو کې د بانک بوختیا له امله منځ ته راغلې. همدارنګه د بانک مرسته تر شخړې وروسته هېوادونو ته د پور ورکولو پرځای د بخشش په دود ورکول کېږي. بانک همدارنګه ترشخړې وروسته وجهي صندوق PCF لري چې ټولنیز او بیا جوړوني لپاره بخشش ورکوي. هغه د شخړو د مخنیوي او بیا جوړوني واحد له خوا اداره کېږي. یواځې په ۲۰۰۳ م کال کې ۱۳ ملیونه ډالر د وجهي صندوق له لارې وېشل شوي وو. وجهي صندوق د ناحکومتي موسسو (NGO) او د شخړو سیوکی مدنې (ملکي) ټولنیزو ډلو غوښتنیکونه منې، خو د نړیوال بانک هیوادنې دفترونه د غوښتنو د ارزونې لپاره استعمالوي، هېوادنې دفترونه باید PCF د غوښتنلیکونو سپارښت او لاسلیک وکړي. د نړیوال بانک د جنس د برابرۍ پالیسي بیانوي.

- د جنس تینګار کوونکی توپیر اقتصادي اغیزناکي او وده زیانمنه کوي، او
- او عامه پالیسي د جنس خالیګاه په ترلو کې توپیر منځ ته راوړی شي. د بانک د جنس پالیسي موخې د جنس د توپیرونو کمول او د غړو هېوادونو د اقتصاد په پرمختګ کې د ښځو د برخې اخیستلو زیاتوالی دی. په دې برخه کې، بانک - د هغه د تحلیلي کار له لارې، د پالیسي سلا، او د پور ورکولو پروګرامونه - غړو هیوادونو سره مرسته کوي چې.
- ترکومه چې ضرورت وي، د قانوني او سمووني کار چوکاټ مطالعه او سم کړي؛
- د جنس د تحلیل لپاره د معلومات بنسټ غښتلی کړي؛
- ددې پالیسیو او پروګرامونو مرستې لپاره مالي وجوهات ترلاسه کړي؛ او
- د لاندې موادو په واسطه د جنس حساسي پالیسي‌طرح کړي:

- د هغو خندونو تشخیصول چې ښځې ورسره مخامخ دي:

- ددغو خنډونو په ګوته کولوکې د ستراتيژيو دګټې او لګښت ارزونه؛
- د اغېزمن پروګرام او کارکولو ډاډ؛ او
- د اغېزمن جنس - تيت شوی څارلو او ارزولو سيستمونو ايجادول.

په هر هېواد کې د جنس د موضوګانو ارزولو لپاره، بانک د هيواد د فتر او د جنس د ارزوني، دعامه لګښت څېړنه، نور اقتصادي کار او د هيواد دننه ډيالوګ استعمالوي. تحليل بايدد هېواد د مرستې ستراتيژۍ سره يوځای شی او د پور ورکولو پروګرام کې منعکس شي.

۲- د سيمې مشخص ډېر اړخيز پرمختيايي بانکونه (MDB ) داسې موسسې دي چې په سيمه ييز ډول مامي مرستې او مسلکي سلا د هيوادونو د اقتصاد او ټولنيز پرمختګ لپاره سمبالوي، د MDB اصطلاح د نړيوال بانک ډلې او څلورو سيمه ييزو بانکونو باندې اطلاق کيږي:

- افريقايي پرمختيايي بانک AFDB په افريقاکې پر پرمختيا ټينګارکوي؛
- اسيايي پرمختيايي بانک ADB په اسيا او پاسيفيک کې دفتر پرکمښت ټينګار کوي؛
- د بيا جوړوني او پرمختګ لپاره اروپايي بانک EBRD په ختيځې اروپا، بالقان او د پخواني شوروي اتحاد په يو شمير ايالاتونو کې پانګه اچونه کوي؛ او
- امريکا د ننه پرمختيايي بانک ډله (IBDA) په لاتيني امريکا او کرابين کې پرمختيايي هڅونو سره مالي مرسته کوي .

۳- بشر دوستانه سوکالی هماهنګی لپاره اداره (OCHA) د ملګرو ملتونو د بېړنيو پېښلو او طبيعي افتونو ته د ځواب ورکولو محراقي (مرکزي) ځای دی OHCA د بشر دوستانه ځوابونه هماهنګی، پرمختيايي پاليسی ته يوه بولی( حکميت) لري او وکالت يې کوي . OCHA خپل کار د نماينده ګی - دننه ثابتې کميټې (IASC) له لارې هماهنګ کوي چې په هغې کې د ملګرو ملتونو غوره نماينده ګی د بشر دوستانه غيردولتي موسسو سره او د سرې مياشتې نړيوالي کمېټې جنش شامل دي OCHA په ورځني عملياتو کې بوخته نه ده ، خو هماهنګي او سموني کوي:

- پر ډګر د خپلو شريکانو ترمنځ د بشر دوستانه مرستو لپاره د عمومي ستراتيژۍ پرمختيا.
- د وضعي او اړتياوو ارزوني - په يو بحران کې، د OCHA دنده دا ده

۱) د ټولو بشردوستانه اړتياوو تشخيصول . ۲ ) د عمل حقيقي پلان وده ... چې د دوه ګون مخنيوی کوي . او ۳) پر مختلل مانيټور اوپروګرامونه طبقاً سم کړي؛

- شبکه ييزکار او غونډې د غوره عمل کوونکو ترمنځ، څو تجربې او معلومات سره شريک شي او د عمل کوونکو ترمنځ زيات شوی روڼتيا (شفافيت) اومسووليت موجود وي ؛
- د سرچينو چمتو کول - په ځانګړې توګه د غوښتنو پياوړې پروسې له لارې ، چې د پانګې لپاره د لومړيتوب حق په ګوته کوي ، او مرستندويانو ته د رسېدو د لګښت يوه وسيله ګڼل
- دبحران ترمنځ د ستونزو څرګندول . کله چې نورې نمايندګی يا د غير دولتي موسسو منځګړيتوب منځګړی ونلري ، OCHA د ستونزو د حل لارښونه کوي ( يعني د جنګ کوونکو ډلو سره د ملکي خلکو سره د بشر دوستانه مرستې د سمبالولو لپاره خبرې اترې ) ؛ او
- د نمايندګيو ترمنځ د هماهنګی د سمون لپاره د وسيلو او ميکانېزم کارول . د ساري په توګه ، OCHA دً وختي اخطار تحليل لپاره مسووليت د بالقوه بشر دوستانه بحرانونو تګلاره پيداکړي . هغه يوه طريقه چې پر ړومبنيو اخطاريه شاخصونو تکيه ولري ، او بالقوه بحرانونه ، د جګړوبيا منځ ته راتګ يا د حالت بدلون ته ګوته کړي ، کاروي ( د جګړې مخنيوي څېړکی وګورئ ) .

٤- د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام (UNDP) د ملګرو ملتونو غوره نماينده ګي ده چې پرمختيايي کارونو ته ځانګړې توګه په ډيموکراتيکه توګه اداره کول، د فقر کمول، د بحران مخنيوی او بيا لاس ته راوړنه، دوامداره انرژي او چاپېريال او ايډز/ HIV پرمختيا په هېوادونو کې د ملګرو ملتونو انکشافي

موسسـې پـه اسـتازيتوب سـره، لـه شـخړو لومـړۍ، مـنځ کې او وروسـته، د شـخړو د مخنیوي او لاس ته راوړنې ځانګه له شخړو وروسته په انتقالي دولتونو کې عمل کوونکو لارښود ګرځېدلی دی. د هغې موخه دا ده چې د ملګرو ملتونو هڅې پر ځمکه یو بل سره هماهنګ کړي او د ملګرو ملتونو له هیئتونو سره د یو هېواد په ټولنیزې او اقتصادي بیا جوړونه کې د لومړیتوب حق ټاکلو کې مرسته وکړي.

پـه دودیـز ډول، د ملګرو ملتونو انکشافي موسسه ډېر کارونه د ملي یا حکومتي شتمنیو سره پر ګډ کار تینګار کوي ، خو د ملي غیر دولتي موسسو او ځایي ټولنیزو موسسو په شمول ، د مدني ( داخلي ) ټولنو په هڅو کې چې تېري له امله زیانمنې شوي ، مرسته وکړي
.

په ټوله نړۍ کې د د ملګرو ملتونو انکشافي اداره دفترونو د هستوګن استازو لخوا - چې د ملګروملتونو نمایندګیو او نړیوال عمل کوونکو سره د سلاورکولو مسوولیت په غاړه لري ، او د ملي حکومت اومدني ټولني عاملینو سره ګډ کارکوي ، رهنمايي کيږي ، هغه چې د پرمختګ لومړیتوب اونوښت او د هیواد د ننه پروګرامونه په ګوته کوي .د ملګرو ملتونو انکشافي اداره د هر هېواد لپاره د ملتونو د مرستي چوکات د فورمول جوړولو لارښود دی . په د نمونې په توګه هغه د پنځه کلنې مودې لپاره د پالیسی اوپروګرام لومړیتوبونه طرح کوي .

دجنس په اړوند د مګرو ملتونو انکشافي اداري سیاست څرګندوی :

د جنس د برابرۍ حقانیت کول د د ملګرو ملتونو انکشافي اداري ژمنه ده . د یوې سموونکي موضوع په شان ، جنس مسئله باید د موسسې په هر کار کې څرګنده شي ولې؟ ځکه چې د نر او ښځې تر منځ برابري عدالت ، خواخوږي او حق دی _ هغه یوه په زړه پورې او د ستایلو او موخه ده چې د بشر د پرمختګ او حقونو په زړه کې پرته ده او هم د دې لپاره چې د جنس نا برابري د پرمختګ او د بشر د ودې په لار کې ستر خنډ دی . کله چې پرمختګ ونه روزل شي خطرناک کيږي .د جنس برابرۍ لپاره دوه لارې شته : په عقیده کې د جنس ځایول او د ښځو پیاوړي کول . دواړه خطرناک دي.

٥- د ښځو لپاره د ملګروملتونو انکشافي پانګه (UNIFEM) د ملګرو ملتونو له نمایندګیو، حکومتونو او مدني ټولنې سره په ګډه کار کوي چې د تخنیکي او مالي مرستو د سمبالولو له لارې د ښځو د حقونو او فرصتونو اندازه لوړه کړي . د هغه د ټینګار سیمې دا دي :

- د ښځو د اقتصادي حقونو پیاوړتیا؛
- د جنس د اداره کولو روزنه او د سولې ټینګښت؛ او
- د ښځو د بشري حقونو لوړول او پرمخبیول
.

د جګړو ځپلو هېوادونه په اړوند، UNIFEM ، د سولې په پروسو او بیا جوړونه کې د ښځو برخه اخیستلو کې - د رهبرۍ د روزنې او وړتیا ته واسطه ، د نړیوالی ټولنې سره د تماس نیولو - اسانتیاوې، د ښځو د طبیعي سولې فعالیتونو سره مرسته کولومدافعه او د جګړې ترمخه د اخطار نوښت او د مخنیوي پروژو سره مرسته کوي، UNIFEM، پنځلس سیمه ییز او فرعي سیمه ییز دفترونه لري .

٦- دملګرو ملتونو د سولې ساتنې عملیاتوڅانګه (DPKO) خپلو پالیسیو مهارتونو ته وده او پراختیا ورکړه چې وکړای شي په ځینو برخو کې لکه د سولې ساتلو د عملیاتو پراختیا - پرته له نظامي سبک ځواک چلولو، د سولې د مرستې هڅې او ان د هېواد جوړښت سره سیالي وکړای شي د جنس د پوښتنې په هکله، د امنیت د شورا د ۲۰۰۰ م کال د ۱۳۲۵ پریکړې راهیسې ، د ټول وخت د جنس دفترونه او په هیاتونو کې سلاکارانو په شمول اړوند نوي نوښتونه خپاره کړي، اوهڅه کوي چې د جنس لېږی لید د بې وسلې کولو او د جنګیالیو بیا بشپړونه تکمیل کړي، د جنس موازنه د ځایي پولیسو قواوو لوړول تر سره کړي، د ځایي تېریو د مخنیوي په باره کې روزنه سمبال کړي، د چټکو اغېزمنو پروژو پرمختګ چې پر ښځینه او نارینه اغېزه کوي او د جنس _ حساس ټاکنې او عملیو شاملول په اړه زیار باسي

د هغه د خپلې موسسې په هکله، په ځانګړې توګه د سوله ساتو د ګومارلو په اړوند، DPKO اعتراف کوي چې د جنس د انډول تعقیبول د وړتیا راغونډولو ضمني قوه لري سربېره پردې، د جنس د عقیدې منځ ته راوړل کولای شي د وضعې د پېچلتیا په پوهېدلو کې ښه مرسته وکړي کېدای شي نوې مفکورې او څرګندونې منځ ته راوړي هغه ښايي د هیله من پای بېلابېل نړدې کېدنه (تقرب) په نښه کړي او کولای شي سرچینې او وړتیاوې څرګندې کړي همدارنګه هغه د سولې د عملیاتو په ټولو مسئلو کې د ښځو برخې اخیستلو د زیاتوالي ضرورت په ټولو سطحو کې بیان کړي ، په ځانګړې توګه په لوړه اندازه په پریکړه کې، چې د لومړیتوب حق لري په هر حال، دغه ځانګه ښځې د ګومارل د غړو هېوادونو مسوولیت بولي، وایي، عمومي منشي په حیث هېوادونو غږ کړی چې د ښځو ګومارل د نظامي کتونکو، سوله ساتي سربازانو او ملکي پولیسانو په حیث زیات شي .

۷- د ملګرو ملتونو د کورنۍ نورې نمایندګۍ هم پر شخړې وروسته ټولنیز او اقتصادي هڅو کې بوختې دي د کار نړیواله موسسه (ILO)، چې د کار حقونو کې تخصص لري، له جنګ وروسته هیوادنو کې په اقتصادي او ګومارلو ستلوکې عمده اوغوره عمل کوونکی دی.د حکومتونو، مدني ټولنې او د کار موسسو سره کار کولوکې، تخنیکي مرستې سمبالوي چې د ګومارلو فرصتونه سم کړي او د کارګرانو لپاره ټولنیزه ساتنه ډاډمنه کړي. د جګړو په شمول، د ملګرو ملتونو نړیوال خوراکي پروګرام (WFP) د ملګرو ملتونو مخکښه نمایندګي ده چې په خطرناکو او بېړنیو حالتونو کې خوراکي مواد برابروي او د لوږې پرضد مبارزه کوي. د ښځو سره د کار کولو ژمنه کوي، او ټینګار کوي چې ښځې د غربت او لوږې په کمولو کې لومړۍ او ډېره چټکه لاره ده. د غذا او کرهنې موسسه (FAO) یوه مخکښه موسسه ده چې د خوراکي موادو ساتنه ډاډمنه کوي او د ملتونو سره د کرهنیزو پیداوارو د معیاري کولو هڅوکې مرسته کوي. د ملګرو ملتونو د کوچنیانو پانګه (UNICEF) منځګړتوب د کوچنیانو ساتنه ده . په جنګ ځپلو هېوادونو کې، یونیسیف په فعاله توګه د کوچنیانو په راغونډولو، د ښونځیو بیاپیلول او د زده کړې په سمبالولو کې بوخته ده د کوچنیانو د امنیت څېرکی وګورئ.

په اصل کې، د ملګرو ملتونو په سیستو کې د جنس د برابرۍ او د ښځو د پیاوړتیا یوه ژمنه شته، چې ډېرې اتحادیې خپلې پالیسۍ په پیکنګ کې د ۱۹۹۵ م کال له پلاتفارم څخه اقتباس کوي. سربیره پردې، د ژمنې پراخه سیستو د پرمختیایي موخو د نېکمرغۍ ددرې (MDG) درک کول، چې په هغې کې د جنس برابري او د ښځو پیاوړتیا شته (د متن چوکاټ وګورئ). په عمل کې، د برابرئ لاس ته راوړلو لپاره زیات پرمختګ ته اړتیاده.

| د نیکمرغۍ د پرمختګ موخې. |
|---|
| د ۲۰۰۰ م کال، د نړیوال پراخه مشورو تعقیبولو په ترڅ کې، د ملګرو ملتونو غړوهیوادونو د نیکمرغۍ د پرمختګ د موخو (MDG) د نمانځنې او لاسلیک لپاره په نیویارک کې د ۲۰۱۵ کال لپاره غونډه وکړه. د نړیوال بانک په وینا، MDG نړیواله ټولنیز ته د پراخه پرمختګ لپاره د یوې ژمنې په څېرګوري هغه چې په زړورتیا سره د بشر پرمختګ په ټولو هېوادونو کې د ټولنیز او اقتصادي ودې لپاره غوره بولي او د پرمختګ لپاره نړیوال ګډ کار ایجادول غوره ګڼي. موخې په عام ډول ودید پرمختګ د اندازه کولو لپاره د کار د چوکاټ په حیث منل شوي دي.<br>اته موخې باید:<br>□ ډیره زیاته لوږه او فقر له منځه یوسي؛<br>□ هرځاییز لومړنۍ لوړه زده کړه ترلاسه کړي؛<br>□ د جنس برابري باید لوړه او ښځې پیاوړې کړي؛<br>□ د کوچنیانو مړینه کمه کړي؛<br>□ مورنۍ روغتیا سمه کړي؛ |

- د اېډز HIV ،ملاريا او نورو ناروغيو مخنيوی وکړي؛
- د چاپېريال ساتنه دادمنه کړي؛ او
- د پرمختګ لپاره نړيوال ګډ کار ته وده ورکړي.

دې موخو ته رسېدل زياتره دوه اړخيزو يازيات اړخيزو مرستندويو نمايندګيو لومړنی هدف دی. زيات شمېر هيوادونه چې MDG پېژندنه د مرستندويانو ترمنځ د اړيکو بياجوړېښت او د مرستندويانو، اخيستونکو حکومتونو او مدني ټولنو ترمنځ اړيکي اسانوي. ددې لپاره ميکانېزم د نيستی کمولو ستراتيژۍ پروسه (PRS) ده. د PRS پروسه په دې معنی ده چې بايد حکومت، مامي موسسی او مدني ټولني د فقر د کمولو لپاره د لومړيتوبونو په اړوند موافقې ته ورسېږي. د مدني ټولنې موسسې چې تراوسه يې د PRS پروسه ماينټورکړی چې د دوه غوره ستونزي يې تشخيص کړې.

۱- برخه اخيستنه څومره چې هيله کېده، ډېره کمه ده او په ځانګړي توګه په هره مسله کې د ښځو برخه اخيستنه ډېره کمزورې ده . د ښځو موسسو شکايت کاوه چې د پروسې په اړوند هيڅ معلومات نه دي ورکړشوي، او کله چې دوی کولای شول برخه واخلي، د دوی غږ چا وانهورېد. نو پايله دا شوه چې د جنس مسئله په اغېزمنه توګه د PRS پروسه کې رهنمايي نه شوه.

۲- د تمويلولو پلان چې له پروسې څخه (دفقر کمولو ستراتيژۍ د پانوپه بڼه) ولاړېږي ټرونکی او مخنيوونکی دی. په حقيقت کې، مدني ټولنې په بلنه ورکړل شوې د نړۍ د پرمختګ مالي چاروکي پرېکړه وکړي، خو همدارنګه ورته ويل شوي چې کله پرېکړه وشوه، يواځې هغه پروژې او موسسې چې منل شوي ستراتيژۍ تاييد کړي، کولای شي دغې پانګې ته لاس رسی ولري

۸- د اقتصادی پرمختګ او همکارۍ لپاره ( DECD) موسسه هم د جګړې مخنيوي او د سولې پياوړتيا کې اغېزمن رول لوبوي. هغه له ۳۰ غړو هېوادونو څخه جوړه شوې ده چې ډموکراتيک حکومت او د بازار د اقتصاد ژمنه کوي. موسسه د ۷۰ هېوادونو، NGO او مدني ټولنې سره کار کوي. هغه په نړيواله سطحه منل شوي سامانونه توليداو سپارښتنې او پرېکړې کوي چې په هغو سيمو کې د ځانګړو هېوادونو لپاره هر اړخيز ترون ته اړتيا لري، د لوبې ځواک زيات کړي څو په نړيوال اقتصاد کې وده وکړي. د OCED فعاليتونو کې پلنه، خپرونه، پرتلنه او له پرمختيايي مرستې نيولې پر زده کړې او علم پورې د موضوعګانو د احصاييو تحليل شامل دی. موسسه په يو لړ څانګو، مديريتونو او نورو ډلو وېشل شوې ده . هغه موضوعګانې چې د پرمختلونکو هيوادونو سره د همکارۍ په هکله دي، د پرمختګ همکاريو مديريت تر مراقبت لاندې دي چې پرمختيانې مرستې د کميټې (DAC) کار سره مرسته کوي. د DAC ۲۳ غړي ټول ستر مرستندويان دي چې هيله ده چې د مرستې پروګرامونو پرمخبيولو کې ګډې موخې ولري.

په دې اړوند، په پلازمينو او سيموکې پرمختيايي حرفه يې لارښووني تنظيم شوې دي. په کال ۱۹۹۷ کې DAC د جګړو، سولې او پرمختيايي همکارۍ لپاره د ۲۱مې پېړۍ په درشل‌لارښونې جوړې کړې چې په جګړه کې ځپل شوي هيوادونو ته د نړيوالې مرستې نوی معيار منځ ته راشي په ۲۰۰٤ م کال کې، د جګړې د مخنيوي لپاره د مرستې لارښونه د ۱۹۹۷ م کال د مل (ضميمه) په توګه خپورشو. د غوره اصولو ترمنځ د پرمختلونکې ټولې داده چې دوی بايد.

- په فعال ډول ښځې، نارينه او ځوانان د سولې په پياوړتيا او د پاليسيو جوړولو پروسوکې بوخت کړي. ټول عمل کوونکي بايد د جنس توپيرونو او تېريو ترمنځ نفوذ کوونکي اړيکي له منځه يوسي او د مخنيوی او حل لاره پيدا کړي.
- محلي ظرفيتونه نافذ کړي چې عامه پاليسۍ کې نفوذ وکړي او ټولنيز او د سياسي ايستنې مخنيوی وکړي ۱۹

پياوړتيا پرمختلونکو هېوادونو کې د اقتصاد سمون، ټولنيز او اساسي شرطونو لپاره د ژوند مسئله ده د ښځو او نارينه د دواړو پوهه، ځيرکي او تجربه، ددې لپاره چې پرمختګ

اغېزمن، دوامدار او ريښتني وي، ضروري دي، د جنس برابري په ماکرو، ميسو او مايکرو انداره کې ضروري ده څو د جنس ځوابيه اعمال په پرمختيايي کار کې له منځه يوسي. ۲۰

د جنس برابرۍ کې د ACD کار د جنس د شبکې لخوا چې له دوه اړخيزو يا زيات اړخيزو نمايندګيو څخه جوړه شوې چې تجربه او د پرمختګ عمومي پاليسۍ او نژدې کېدنه سره شريکه کړي د جنس شبکه مطالعې، لارښونې، کار پاڼې او د جنس او نور پرمختګ اړوند مواد په پراخه اندازه خپروي هغه همدارنګه ځينې ضروري د کار شاپونه د ملګرو ملتونو د متخصيصينو مدني ټولنو او حکومتونو سره يوځای پرمخبيايي.

سندونه، په ځانګړې توګه لارښونې چې له DAC څخه ولاړېږي د پاليسو او معيارونو يو عام سيټ منعکس کېږي چې د DAC غړي په پرمختيايي مرستو کې بوخت وي هغه په پام کې ونيسي. د غيردولتي موسسو او نورچې له جګړې وروسته ټولنيز او اقتصادي بيا جوړونه کې د جنس د برابرۍ ساتنه کوي، له دغولارښونو استفاده اخيستی شي چې د DAC غړي مانيټور او ددوی ژمنې وڅاري.

۹- دوه اړخيز مرستندويان - د متحده اياالاتو (US)، کاناډا، سويډن، د اروپايي اتحادیې غړي (EU) جاپان او نور زيات هېوادونه - د ملګرو ملتونو او نړيوال بانک له لارې، او نېغ په نېغه ملي حکومتونه، نړيوال او ملي NGO ګانو او شخصي شرکتونو او د بيا جوړونې کار لپاره فرعي قراردادیانو ته پانګه برابروي . د دوی د مرستې اندازه او خاصيت د دوی د ګټو او بوختيا او تاريخ سره سم توپير لري . په ډېرو مسئلو کې دغو نمايندګيو اختصاصي دفترونه جوړ کړي چې د جګړې بېلابېل پړاوونه او اړخونه او نور څرګند کړي .نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالتونو نمايندګي (USAID) لومړی په غريبو هېوادونو کې اوږد مهال پرمختيايي هڅو سره مرسته کوي او جنګ ځپلو هېوادونو او سيمو سره بشري بېړنۍ مرستې کوي چې له طبيعي افتونو سره مخامخ دي .هغه د "کوچنيو سوداګريو او د ښځو - خپلو مشغوليتونو سره مرسته کوي" په هر حال، د هغه انتقالي نوښتونو دفتر (OTI) دې ته وقف شوی چې د جګړې سرخوږ يا "له جګړې وروسته انتقالي" سيمو کې د لنډ مهال د موخې پر اساس د اوږد مهاله مرستو د هڅو سره پرمختيايي کارونه پرمخبوځي . همدا ډول د نړيوال پرمختګ لپاره څانګه (DfID) په برتانيه کې زيار باسي په نړيواله سطحه فقر کم کړي د هغه د جګړې او بشر دوستانه څانګه د جګړې اړوند مسئلو باندې ټينګار کوي . دلاندې ثبوت پربنسټ ، ډېرې دوه اړخيزې نمايندګۍ د جنس په عقيده لرلو او د ښځو په پياوړولوکې ، دوی په عملياتي هڅو کې روښانه پاليسۍ لري

د کاناډا نړيوالې څانګې نمايندګي (CIDA) : د جنس برابرۍ ته پاملرنه د پرمختګ کار او د اقتصادي او ټولنيز پرمختيا لپاره ضروري ده د پرمختګ پايلې د ښځو او نارينه و د بېلابېلو اړتياوو او ګټو له پام لرلو پرته زيات او دوامداره کېدای نشي . د خلکو اوازونه او واقعيتونه په پوره ډول نه واورېدل او ونه وپېژني، د CIDA موخې د فقر کمولو او د نړۍ د لازيات امنيت، برابرۍ او سوکالۍ کې په زړه پورې مرسته نشي کړای" ۲۲

DfID: "زياتېدونکي او مجبورونکي ثبوت شته چې څرګندونې چې ښځې نه يواځې د فقر دروند بار زغمي، بلکې د ښځو غښتلي کول د فقرد کمولو لپاره مرکزي شرط دی . که د فقر لېرې کول او ورسره د نړۍ د ملتونو امنيت او سوکاله، دوامداره راتلونکی په پام کې نيول کېږي نو د دې لپاره د ښځو برابري يو مطلق ضرورت دی ... د جنس د برابرۍ لپاره مبارزه له فقر څخه د سلهاوو مليونو خلکو د خلاصون لپاره يوه غوره وسيله ده . سربېره پردې، همدارنګه هغه د ټولو لپاره ۲۳ د بشر د حقوقو لاس ته راوړلو لپاره يو مرکزي توکی دي".

EU : په عمومي ډول، د پرمختګ لپاره د جنس برابري قاطع شرط دې او د جنس او فقر ترمنځ اړيکې د جنس د عقيدې په پر مختيايي کې له پخوا څخه زيات خطرناک ګڼل شوی دی.....د ښځو د وضعې په سمون کې پانګه اچونې(د زده کړې سمبالول، د روغتيا بهبود او د دوی د ځمکې او کار حقوقو ساتنه) د ګټورتوب اندازه لوروي، او د ماشومانو او ښځينه مړينه، د خوراک نه خونديتوب او فقر سطحه ټيټوي ۲۴

(جاپان)
سویډني نړیوال پرمختیایي شرکت نمایندګي:
"د ښځو او نارینه وو ترمنځ پر برابرۍ د سویډني شرکت همکاري ټینګار پر دوو غوره اصولو تکیه کوي: لومړی، د اوږدې مودې ټینګه عقیده چې برابري د بشر د حقوقو مسئله ده؛ او دویم، زیاتیدونکي په رسمیت پیژندنه چې مساوات ـ برابر حقونه، فرصتونه او مکلفیتونه، د ښځو او نارینه و لپاره _د خلکو د اغېزمن او دوامداره پرمختګ لپاره لومړی شرط دی.۲۶"

د جاپان نړیوالې همکارۍ نمایندګي(JICA): "د ښځو پیاوړتیا او د جنس برابرۍ لپاره د پرمختیایي مرستې په ټولو اړخونو کې هدف یو حتمي حکم دی.....د ښځو پیاوړتیا او د جنس برابرۍ درک کول یواځې د ښځو ـ په نښه کولو پروژه د شمېر د زیاتولو په معنی نه ده، بلکې د هغه جنس لېږې لید مرستې بشپړول دي چې JICA په کار اچوي.۲۵"

USAID : "USAID په ټوله نړۍ کې د ښځو په پرمختګ کې ځانګړې علاقه لري د ښځو روغتیا، زده کړه، اقتصادي فرصتونه او بشري حقونه د ثابتې ټولنې او اقتصادي د دې بریالیتوب یې مرکزي موخه ده . د دولت وزارت / USAID ستراتیژیکي پلان څخه اساسي اصول دادي چې ټول وګړي، نارینه او ښځې د تنیو چلینجونو تلافي او د برابرۍ، سولې او امنیت د رسېدو لپاره د ژوند مسئله ده۲۷"

۱۰- نړیوالې NGOs د جګړې وروسته بیاجوړونه کې د فعالیتونو پراخه ډولونه ترسره کوي. پرځمکه، د "مرستې/هوساینې"، پرمختګ،" او "بیاجوړوني" ترمنځ ترجیح اسانه کار نه دی په همدې ډول، د "جګړې" او "ترجګړې وروسته" ترمنځ څرګندوالی به یو مصنوعي کاروي بې شماره NGO ګانې شته چې تر جنګ وروسته په ټولنیز او اقتصادي بیا جوړونه کې په نړیواله، سیمه ییزه او ملي سطحه کارکوي د زیاترو لپاره د هغو فعالیتونو لړۍ چې دوی یې سرته رسوي او باید د دوی د مشخص وړتیا او تجربې له پلوه وټاکل شي . د ساري په توګه د هغو پروژو پراخوالی چې په تر جګړې وروسته بیا جوړونه کې د نړیوالوغیردولتي موسسو په واسطه تر سره شوي ، د CARE/USA دګواتیمالا په پروګرام کې د مدني ټولنې پرمختګ ، د کلیو بانکونه، زده کړه، د مور او ماشوم روغتیا، د ښځو پرمختګ، د ناورین مخنیوی و ډموکرات کونه، د ایدز/HIV کار د ځوانو خلکو سره او همدارنګه اوبه او د ناروغیو مخنیوی شامل دي ۲۸. نورې نړیوالې غیردولتي موسسې هم شته چې د ښځو په پیاوړتیا او دنارینه او ځځینه پهاندول ټینګار کوي . دمتحده ایالتونومرکزي NGO ښځې د نړیوالو ښځو لپاره د کار روزنې او د عایداتي پروژه سره په جنګ ځپلو هېوادونو کې د ښځوسره مرسته کوي کویناتیل کوینا، یوه سویډنی غیردولتی موسسو، په فعال ډول په له جګړې وروسته هېوادونو، په ځانګړې توګه په بوسنیا او هرزګوینا کې د ښځو پیاوړتیا سره مرسته کوي .

نړیوالې مداخلې ښایي نیغ په نیغه وي (لکه نړیوالې نمایندګۍ باید روغتیایي خدمتونه پخپله سمبال کړي ټښتول شوي کوچنیان باید بېرته خپلو کورنیو سره یوځای کړي یا کرهنیز پلانونه باید عملي کړي) یا ښایي د ځایي شریکانوله لارې ئې سرته ورسوي کوم ځای کې چې امنیت تضمین کېدای نشي لکه په ۲۰۰۳-۲۰۰۴م کلونوکې عراق یا افغانستان په ۲۰۰۱-۲۰۰۴ م کلونو کې، نړیوالې نمایندګۍ زیاتره مجبورېږي خپل کارمندان وباسي، په داسې حال کې چې خپلو ځایي شریکانو سره خپلو روزنیزو مرستو ته دوام ورکوي دا کار نړیوالې نمایندګۍ ته لاسبری ورکوي چې په سیمه کې ، په داسې حال کې چې د ګډ مسوولیت کار د خپلو ملګرو په نمایندګۍ پرمخبیایي دغه ډول غیر مستقیمه مرسته هم د ځایي ظرفیتونو او د پروژو مالکیت د ټینګښت لپاره ګټوره ده .

همدارنګه د نړیوالو عاملینوکوونکو لپاره دا یو ښه کار دی چې د ملګرتیا له لارې سیستمونه او ستراتیژۍ جوړې کړي ، پرته له دې چې پخپله یې تر سره کړي .

۱۱- ملي عمل کوونکي له نړیوالې ټولې سره د پانګې بحث او لومړیتوب حق ورکولو کې ښه رول لوبولای شي د هېواد اصلي مشغولتیا له جګړې وروسته موده کې نظامي امنیت، پخلاینه، د سیاسي جوړښت تاسیسول او د پخوانیو جنګېدونکو پارټیو په ملي دستګاهو

کې یوځای کول دي .د کانګو په ډموکراتیک جمهوریت کې ، انتقالي حکومت، چې په ۲۰۰۳ م کال کې جوړ شوی پنځه جنګېدونکي ډلې يې (ګوندونه) په حکومت کې _ هریو ته د مرستیالۍ په ورکولو سره یوځای کړل، یاغي ځواکونه يې په ملي اردو کې ځای پرځای کړل او هېواد له دوه کاله وروسته ټولټاکنوته چمتو کوي . په یوګنډا کې، د زده کړې پروګرام (د ښوونځیو ابادولو او د ښوونکو روزلو په شمول) د شمالي یوګنډا د بیا جوړوني پروګرام له لارې د جنګ د کلونو د هېرولو په معنې چې ځوانان له ښوونځیو څخه د یاغي ځواکونو او مقابلې لپاره ایستل شوي وو، ایجاد شوي وو .

دمدني ټولنې موسسې هم محوري دي او زیاتره له جګړې وروسته له دولتي شتمنیو څخه ډېر زیات ظرفیت لري . خو له شخړې وروسته موده کې د نړیوال مرستندویانو او د دولت سره د اړیکو لپاره نوي خطرونه منځ ته راوړي . په ډېرو جنګ ځپلو هېوادونو کې، مدني ټولنه غښتلې وي . هغه د خدمتونو غوره سمبالوونکي او د نړیوالې مرستې غوره لاس ته راوړونکې دی . په هر حال، له جګړې وروسته موده کې نړیوال مرستندویانو پام د دولت ظرفیت ټینګښت خواته اړول کیږي چې څارنه تثبیت او ځواک خوندي کړي .دا به د معنی ولري چې پانګې د مدني ټولنې پرځای حکومت ته ورکړې او مدني ټولنه له سیاسي مخې څخه حاشیې ته هغه وخت وباسي چې د هغه ظرفیت او تخصص ته زیاته اړتیا وي .

۱۲- د ګټې لپاره قراردادیان، لکه ستر انجینیري او ساختماني شرکتونه، زیاتره له جګړې وروسته هېوادونوکې قوي حضور لري، دفترونه پرانېزي، ځایي کارمندان استخداموي او فرعي قراردادي کارونه کلي ملکیتونو کاروبار ته ورزیاتوي که څه هم دوه اړخیزې او ډېر اړخیزې پرمختیایي نمایندګۍ د بیاجوړوني پروژو مسوولیت په غاړه لري، حقیقي کار زیاتره شخصي کاروبار یا قراردادیانو سره فرعي قرارداد کیږي .کوچني قراردادي شرکتونه په مشخصو موضوعګانوکې تخصص لرل لکه روغتیا پالنه او زده کړه هم ملګري دي دوی هم د کار فرصتونه وړاندې کوي او ځایي کاروبارونو او NGO ګانو سره ګډ کارکوي په ډېرو قضیو کې قراردادیان د ښځو استخداموِل یا د ښځو - لخوا مشغولتیا او موسسو سره مشخص منځګړیتوب کوي .

پروسه : دلومړیتوب حق تشریح کوي او سر چینې ټاکي

د یوې نړیوالې - منل شوې سولې د تړون تر لاسلیک کېدو وروسته (یعني - د سولې لپاره د کار سیاسي چوکاټ شته) ډېرې غوره نمایندګۍ دننه هېواد کې د اړتیاوو ارزوني کوي. د هماهنګۍ اندازه (سطح) د موسسو ترمنځ توپیر لري، خو د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک او زیاتره له نورو زیات اړخیزو پرمختیایي بانکونو د استازو ترمنځ همکاري شته. په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې، که څه هم د جنګېدونکو ډلو ترمنځ د سولې رسمي تړون نه وو، خو بیا هم تر جګړې وروسته بیا جوړونه پیل شوه. د اسیایي پرمختیایي بانک استازي د هغو ډلو غړي وو چې هېواد ته واستول شول.

د اړتیاوو د ارزونې پروسه د موسسو یا هېوادونو کې سیناماتکي نه ده او نوې هڅې رواني دي چې هغه د کار چوکاټونه جوړ کړي چې وکولای شي نړیوال کارمندانو ارزونې پرمخ بوځي. د ملګروملتونو په سیستم کې، د لومړنیو اړتیاوو ارزونې تعقیبوي. د ملګرو ملتونو نمایندګیو په پرمختیایي کار کې د هېواد عمومي ارزونې سرته رسولو کې منځګړتوب وکړ (CCA)، "CCA یوه پروسه ده چې د ملي پرمختګ حالت مطالعه او تحلیلوي او د وکالت پالیسي ډیالوګ او د UNDAF، د ملګرو ملتونو ارزوونکی پلان" له پاره غوره مطالب د یو اساس په توګه تشخیصوي، مرستندویان لکه USAID یا DfID هم د اړتیاوو ارزونې سرته رسولي او په یو هېواد کې د دوی د مصروفیتونو د ټاکنې سره د مرستې له پاره یو معیار لري.

دغه ارزونې زیاتره نړیوال مرستندوی کنفرانسونو کې د پراخې اجنډا او د بحث له پاره د موضوعګانو په ټاکلو کې مرسته کوي، هغه کې چې غوره دوه اړخیز مرستندویان د پانګو ژمنه کوي د هغه بیا جوړونې سره مرسته وکړي چې د لومړیتوب حق لري چې د اړتیاوو ارزونې کې پېژندل شوي؛ همدارنګه نور معلومات، چې په کې د دوی خپل منځګړیتوب او

اړوندې موضوعګانې شاملې دي. په ډېروموضوعګانو کې يو "ملتيې ډونر ټرسټ فنډ" جوړ شوی، چې له هغه څخه بيا پانګې نړيوال او ملي عاملينو ته د بيا جوړونې هڅو له پاره تاکل کېږي. نړيوال بانک پانګه يوازې يا د نورو نړيوال موسسو سره په ګډه اداره کوي.
د ځايي مدني ټولنې د فعالينو په نظر، په ځانګړې توګه ښځې، غوره هدف بايد د نړيوالو ډلو سره ډاډمنه کړي چې دوی جنسي لرې ليد د دوی د اړتياوو په ارزوونو لومړيتوبونو او د مرستندويانو سره ګډکار کې يوځای او بشپړ شي.

## عبرت او ننګونه

په بوسنيا، راونډا، هايټي او ختيځ تيمور کې تر جګړو وروسته، نړيواله ټولنه- د غوره مرستندويو هېوادونو په شمول، د ملګروملتونو سيستم، د نړيوال بانک سيستم او د او د غيردولتي موسسو برخه- تر شخړې وروسته بيا جوړونه کې ډېرې زياتې تجربې ترلاسه کړي دي. د اړتيا وده کوونکوې مننه او قدرداني د دې له پاره چې د هر هېواد په مشخص ډول مکلفيتونه څرګند او سم کړي. خو په همدې وخت کې، په زياتېدونکي توګه يو درک شته چې نړيوال کمک بايد اغېزمن وي، او بايد د عام لومړيتوبونو سره پرځپل وخت او هماهنګ وي.
څرنګه چې پخوا وويل شول، ترجګړې وروسته بيا جوړونې مرسته د پرمختيايي مرستو د دوه غوره موخو سره بې ساري ٣٠:
د بشري مرستو، هوساينې او د بېړنيو پيښنو د مرستې نور شکلونو په شمول، د لنډ مهالو اړتياوو په ګوته کول؛ او
د ودانيو، فزيکي او بنيادي، ترميمول (يا ايجادول) چې د اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ ته د مرستې اړتيا.
دا موخې متضادې نه دي. خامخا، په ډېرو قضيو کې، د اوږدمهالو او لنډمهالو موضوعګانو او د يوې پرمختلونکي انتقالي پروسې ترمنځ انډول يوه ننګونه ده. په زياتره قضيو کې لنډمهاله مرسته سمباليږي چې د بشردوستانه مسئلو په څرګندونو کې مرسته کوي، لکه د خوړو نشتوالی خو نړيواله پاملرنه ډېره لنډه ده، نو هغه ژمنې چې د اوږدمهالي مرستې له پاره منځ ته راوړل شوي، زياتره نه عملي کېږي. سربېره پردې، مطالعې ښيي چې ترجنګ وروسته په څلو لومړيو کلونو کې دولتونه يا حکومتونه د پانګو جذبولو له پاره کم ظرفيت لري، خو دا په منځني مهال کې بدلېږي. په څرګند ډول داسې "يو شی ټولو ته مناسب" تر جګړې وروسته بيا جوړونې ته نژدې کېدنه نشته، خو غوره نړيوالې موسسې همدغه ډول نژدې کېدنې لرې چې لومړيتوبونه تشريح ستراتېژۍ جوړوي .
نړيواله ټولنه په پرله پسې ډول هڅه کوي چې د ملي حکومتونو سره هماهنګي او ګډ کار سم کړي، خو خامخا به څه ستونزې، ټوټه کېدنه او سوري شته چې څرګند شوي نه دي. سربېره پردې، مرستندوی هېوادونه- خپلې مرستې د ړومبنی- موجوده بسپنو په شاملولو سره هېواد ته د دوی "نويو" ژمنو، يا د ملګرو ملتونو د نمايندګيو د عادي پانګې په شاملولو سره د دوی د ژمنې د يوې برخې په څېر "غبرګ شمېرې". په ډېرو قضيو کې پانګه نه تاديه کېږي، يا په لنډمهاله اړتياوو مصرفېږي. په افغانستان کې د ٢٠٠٢ م کال د جنوري او د ٢٠٠٣ کال د مارچ تر منځ مرستندويانو ٢،١ بليون ډالر د بياجوړونې له پاره ژمنه وکړه؛ په هر حال، يوازې ٢٧ په سلو کې (٤٩٩ مليون ډالر) پر غوره پروژو ولګول شوې، پاتې برخه يې پر بېړنيو بشردوستانه کارونو مصرف شوي دي.
له تېرو تجربو څخه زيات شمېر غوره پند او عبرت اخيستل کېدای شي.

- ړومبی تردې چې نړيواله مرسته سمبال شي، دا ضروري ده چې د بياودانولو له پاره سياسي منځګړتوب يا د کار چوکاټ چې د جګړې د حل سره ريښه لري او په ملي او نړيوال انداز منل شوی، ولري.
- په جګړه ييزو هېوادونو کې ملي حکومتونه اړ دي په هر اړخيزه بوديجه کې چې عامه او شفافه ده، مرسته ورسره وشي. د دې پروسې په پيل کې روڼوالی او مسووليت ضروري دي.

- د بیا جوړونې پروګرامونه باید د نورو مرستندویانو، ملي حکومت او د هېواد د خلکو سره په ملګرتیا او ګډکار پرمخ ولاړ شي او دوی باید ملت دا لوړه هیله پوره کړي.
- نړیوال عمل کوونکي ترهغه چې امکان لري خپلې هڅې هماهنګ کړي (یعني په عمومي امانتي پانګه کې د پانګې راغونډولو سرچینې چې د ملي حکومت، مدني ټولنې او نړیوالو استازو له خوا اداره شي، کېدای شي د ټوټه کېدو او دوه والي د کمولو وسیله شي). NGO ګانې هم باید پانګې ته لاس رسی ولري.

۳- ترجګړې وروسته بیا رغونه پر ښځو څرنګه اغېزه کوي؟

پرېمانه مالي مرسته او تر جګړې وروسته هېوادونو ته پاملرنه ددې ژمنې له خوا راښکل شوي چې داسې غوره اقتصادي او سیاسي بدلونونه چې د سولې لپاره لید غښتلی کړي، منځ ته راوړي. دغه مرسته باید د ځانګړو سکتورونو، د ښځو په شمول پر ضد د ادارې له پاره تاریخي لاملونه په ګوته کړي.

هغه مالی مرستې چې رابهېږي، هغه پروګرامونه او پروژې چې پرمختللي او غوره ټاکنې چې ترسره شوې، د ملي بیارغوونې څخه نیولې تر پرېکړو پورې، د ښوونځیو، سرکونو، روغتونونو بیا ودانولو پورې مربوط، یا د انرژۍ سمبالول، دا ټول پر ښځو نېغ په نېغه اغېزه کوي. که ښځې د پرېکړو پر مهال حاضرې نه وي، او که چېرې د جنس لپاره لید په ارزونو کې بشپړ نه شي، پلانول او په کار اچول، نو یو قوي احتمال شته چې د ښځو پر اړتیاوو سترګې پټې شي او د دوی وړتیا له پامه وغورځول شي. هغه هېوادونه چې له جنګ څخه راووځي، هلته چې ښځې د نفوس زیاته برخه تشکیلوي، نه شي کولای د دوی پر شتوالي سترګې پټې کړي او د دوی اړتیاوې او مهارتونه یوې خواته وغورځوي.

ښځې باید د بیارغوونې د لومړیتوبونو په اړوند په بحثونو کې برخه ولري څو ډاډمنه کړي چې د دوی او د نورو ډلو چې د عادت په ډول له یاده وتلي غړونه د پانګو اچولو په پلانولو او د پروژو په کار اچولو کې اوربدل شوي دي. دوی باید د ملي حکومتونو او نړیوال عمل کوونکو سره کار وکړي چې ډاډمنه شي د ښځو مهارتونو وده وکړي نو یو ټکنالوژیو تخنیکي زده کړې او روزنې ته یې ځانګړې پاملرنه وکړي او په غوره بیا رغونو هڅو کې د ښځو له ګومارلو څخه دفاع کړې ده. په لومړیو او ثانوي سطحو د نجونو زده کړې سره باید مرسته وشي او پروګرامونه جوړ شي ترڅو هغه کوچنیان چې زده کړه یې له لاسه ورکړې، بېرته زده کړې ته راشي. په هغو ځایونو کې چې د جنګ په موده کې نجونې په نښه شوې وې او هغه ځایونو کې چې ډېرې خپل کوچنیان لري، د ماشوم پاملرنې او نورې هڅوونکې اسانتیاوې (یعني خواړه، روغتیایي پاملرنه) باید ورکړل شي چې ښوونځي ته یې تګ شوني شي.

د ښځو موسسې کولای شي په بیارغوونې هڅو کې- د جسمي او ټولنیزو بیا رغوونې پروژو کې د بولې په واسطه د قرارداد له پاره او همدارنګه د مایکرو- مالي پروژو په مرسته کولو سره چې زیاتره ښځو ته په نښه شوې، مستقیم رول ولوبوي. له دغه به د دوی غړې ګټه ترلاسه کړي او موسسو ته به دوی په خپله د کاروبار په چاپېریال کې د ګډکار تجربه سمبال کړي، همدارنګه ډاډمن کوي چې پانګې ټولو ګټه اخیستونکو ته رسېږي.

### هغه ننګونه چې ښځې ورسره مخامخ دي

د زیاتو شخړو او جنګ ځپلوسیمو کې، چې دولتي خدمتونه او د دودیزو مرستو شبکې له منځه ولاړې شي، ځایي او نړیوالې NGO ګانې د خلکو د زیان رسېدونکو سکترونو له پاره د پاملرنې مسوولیت په غاړه اخلي. ښځې په ځانګړې ډول د یتیمانو، ناروغانو او مشرانو زړو وګړوپاملرنه کوي او د غمجنو او ټپ لرونکو روحي مرسته کوي. دوی همدا ډول اقتصادي فرصتونه لټوي- زیاتره تر نابلدو او د بې امنه شرایطو لاندې څو د خوړو، اوبو او سرپناه اساسي سطحې خوندي کړي. څرنګه چې بارونه درانده دي، دغه وظېفې او مسوولیتو ته د ښځو مهارتونه او وړتیاوې زیاتوي او زیاتره په دې معنی دي چې ښځې په

بې ساري توګه د بيارغوونې په هڅه کې بوختې شوې دي.
سره له دې، ښځې له جګړې وروسته مرستې ته د لاسرسي په لاره کې سختو هلوځلو سره مخامخ دي. له يوې خوا، د نارينه سالارۍ ټولنو کې له تېريو او اړتياوو سره مخ دي. له بله پلوه، دوی له نړيوال عمل کوونکو، د هغو له مقاومت يا نه ميني سره، چې غوره سرچينې کنټرولوي، خو د ښځو سره د تفاهم او سلا په اړوند محدود ظرفيت لري، مخامخ دي. د ښځو د برخې اخيستلو ستونزې ډېرې دي ٣٢:

- ښځې په موسسو کې په پرېکړو کې ددوهمې درجې استازي رول لری لکه وزارتونه، ځايي شوراګانې او نړيوالې غيردولتی موسسو هغه چې زياتره غوره سرچينې (منابع) کنټرولوي.
- د ښځو زياتو موسسو محلي کېدلو او غير رسمي طبيعت، د دوی د تماس نشتوالي سربېره، هغو پانګو او پروګرامونو چې د نړيوالو د غوره عمل کوونکو له خوا څارل کېږي، د ښځو لاسرسی مشکل کړی دی.
- دټولينز سکټر بوديجې، هغه ځای چې ښځې غواړي کار پيدا کړي، لومړی ځای دی چې کمښت تجربه کوي- کله چې اقتصاد په تنګسه کې وي او ښايي ښځې په زده کړه، روزنه او د ګومارلو (استخدام) د کار کولو له لاري بهر ته پاتې شوې وي.
- ستنيدونکي نارينه سربازان يا د کورنۍ نرينه مشر ښايي د ګومارېدلو او د اقتصادي سرچينو په څارلو کې د ښځو سره سيالي وکړي او يا دا چې د جنګ په پای کې زياتره ښځې بېرته پخلنځی ته ټېل وهي".
- په کرهنيزو ټولنو کې، ښځې ښايي ونه شي کولای خپله ځمکه د بې ځايه کېدو، د کورنۍ کاري نابسيا يا د سامان او تخمونو تخريب له امله وساتي.
- د ملکيت او ميراث قوانين چې د کورنۍ يواځينی مشر د مالکيت حقونه ساتي، ښايي ښځې کريډيټ، ځمکې او د توليد نورو وسيلو کنټرولو ته له لاسرسي څخه لېرې وساتي- ان که د کورنۍ نرينه مشر حاضر هم نه وي.
- ډېرې ښځې نه شي کولای ځمکې ته لاسرسی ولري يا خپل کار نورو ځمکوالو ته چې کوچنۍ او بې اعتباره دي د تنخا (اجرت) له پاره وړاندې کړي.
- ښځې د منل شويو کړو وړو نورمونو پر ضد هغه وخت ټېل وهل کېږي چې دوی په غيرقانوني يا ټولنيزو نامنل شويو فعاليتونو کې بوختې شي لکه د بار (bar) کار، د بير جوړول يا فحاشي د اقتصادي پايښت له پاره، چې ښايي شرم او ناوړه استعمال ته ورسېږي ٣٣.
- ښځې ښايي ونه کړای شي د ماشوم پاملرنې او نورو کورنيو مشغولتيا له امله رسمي وظيفه قبوله کړي.٣٤
- د کار ستغ حجم چې کورنۍ د اقتصادي کښته شرايطو کې ساتي، امکان لري د ښځو روغتيا د ګواښ سره مخامخ کړي.
- د ښځو پرضد تېری له جنګ وروسته د دوی په کورونو کې دوام کوي. دا په عامه او اقتصادي فضا کې د دوی د برخه اخيستو لاسبري سخت زيانمنوي.

٤- ښځې پر ننګونو څرنګه بريالۍ کېدای شي؟
د ښځو موسسې کولای شي ښځو سره د مجبوريتونو او ځندونو لېرې کولو کې چې دوی د ودانولو له مرستو څخه د ګټې اخيستلو کې مخ دي د مرستې له پاره بنسټيز رول ولوبوي.

داوليتونوتجسم او د مرستندويانو د غوندو غوښتنه

د ښځو موسسې کولای شي د غوره نړيوالو عمل کوونکو سره اړيکې ولري لکه د نړۍ بانک او UNDD چې د دوی په هېواد کې د ښځو د وضعې په هکله معلوات ورکړي، د دوی په کار کې زيات شوي جنسي لېرې ليدنې له پاره دفاع (وکالت)، د اړتياوو د ارزونې پروسه کې مرسته چې ډادمنه کړي د جنس مسئلې په بشپړه توګه يوځای شوې او مشورې پيل کړي څو لومړيتوب تشريح کړي او ډاډ ورکړي چې د ښځو اړتياوې په پام کې نيول شوې دي.
د ښځو ډلې کولای شي د مرستندويانو غورو غوندو کې استازيتوب وکړي. د افغانستان له

پاره، د نړیوالو مرستندویانو د ۲۰۰۲ م کال په ټوکیو، جاپان کې له ړومبي، له افغانستان او نورو ځایونو څخه د ښځو د حقوقو د فعالینو په واسطه د دفاع هڅې چې د UNIFEM له خوا یې ملاتړ وشو، په اروپا کې د مرستندویانو سره د افغان ښځو حقونو له پاره چې مرستندویانو ته یې یو شمېر وړاندې کړل، عمل کوي. په دې کې هغه سپارښتنې چې مرسته باید بیا رغوونه کې د پرېکړې پر مهال د ښځو برخه اخیستلو پورې مربوط شي؛ او د جنس د مداخلو اغېز دې وارزول شي؛ ښځې دې سمبال شویو اقتصادي مرستو څخه ۵۰ فیصده ګټه واخلي؛ د ښځو د چارو وزارت په کافي اندازه غښتلی شي او NGO ګانو ته دې پانګه ورکړل شي، شامل دي. ۳۶

| جګړه او فقر ښځینه کول |
| --- |
| ویل کېږي د تېرې جګړې د "فقر ښځینه کول" له پاره یوه پیلوونکې اله ده، معنای یې داده چې ښځې د غریبو ډلو ترمنځ زیاتېدونکې پانګه ده. دا د هغو کورنیو زیاتېدونکی تناسب له امله چې شمیر یې د ښځو له خوا کېږي (معمولاً تقریباً ۳۰-۴۰ په سلو کې ترجګړې وروسته بدلېدونکې ټولنه کې)، منځ ته راځي. په ځانګړې توګه هغه کورنۍ چې مشري یې ښځه په غاړه لري، زیانمونکې دي.<br>د هغو کورنیو چې ښځې یې پرمخبیایي یوه ستونزه د کار د سرچینو نشتوالی، په ځانګړي ډول کرهنیزو ټولنو کې، دې ځکه هلته ځوان کسان کم او ځواني ښځې د کور کار کې بوختې دي. بله داده چې له نارینه پرته دوی د کارونو شبکې سره، هغه چې بازار پیداکول، مواد، د ټولنې پرېکړې کنترولوي، اړیکې نه لري او د زور او د استعداد له جوړښتونو سره کمزورې اړیکې لري.<br>په ټولنه کې د زیاتو زیانمنکېدو سربېره، بیا هم ځینې مثالونه شته چې د کورنۍ ښځینه مشرۍ غړې له نورو څه ښه شومه کېږي، ځکه چې ښځینه پاملرونکې د کورنۍ ښیګنو ته د لومړیتوب حق ورکوي. همدارنګه کلتوري شرایطو او دا چې جنګ په ټولنه کې د نارینه دودیز رول له منځه وړی دی، نو ښځو ته په سوداګرۍکې او نورو عایدوونکو فعالیتونو نوي لارې چارې ترلاسه شوې دي. په سومالیا کې د دولتي کړنلارې نشتوالی د کاروبار له پاره فرصتونه ترلاسه شوي دي. د ځینو دلیلونو له پلوه دا د ښځو له پاره مثبت ګام دی، ځکه چې دوی اوس په سوداګرۍ ستر رول لري. خو دغه بدلېدنې زیاتره موقتي دي. د بېلګې په ډول، تر جنګ وروسته، ښځې مجبوره کړای شوې او تر فشار لاندې راغلې چې د سرچینو کنټرول نارینه و ته ورکړې.<br>د ښځینه مشرۍ کورنیو سره د مرستو د هیلو له پاره ننګونه داده چې د دوی وړګټل زیات شي (یعنې د دوی موقف، کله چې د واکونو غوښتنه یا د ټولنې پر نورو غړو منځ ته راځي، پیاوړې شي). دا د قانون او پالیسیو د بدلون په واسطه، د ښځو ترمنځ د دوی د حقونو د خبرتیا زیاتولو او د دوی د هڅو د ملاتړ له لارې ترسره شي چې د دوی د اړتیاوو غبږ پورته کړي. په هر حال، د دې ترلاسه کول، کله چې ټولې کورنۍ معمولاً زیانمونکې وي او د کنټرول نوي سیستمونه او قانون ځای پرځای شوی نه وي، ګرانه ده. په دې شرایطو کې ښځې پر دوه اړخیزه مرستې زیاته تکیه کوي. |

تر جنګ وروسته بوسنیا او هرزګووینا او راونډا کې، د نړیوالو ډلو په واسطه د دفاع هڅو تعقیبول مشخص پانګې (تر ۵ ملیون ډالرو پورې) د نړیوالو نمایندګیو تر څارنې لاندې د منځګړیتوب سره ایجاد شوې چې ښځو سره د دوی په برخه اخیستنه او بیارغونه کې مرسته وکړي، په ۲۰۰۴ م کال په عراق کې، په متحده ایالتونو کې میشتو موسسو د ښځو پر مخبیولو سولې (women waging peace) په شمول، د دفاع (وکالت) او خبرتیا زیاتولو هڅې پیل کړې چې په بېړنۍ توګه له هغو مرستو څخه چې د متحده ایالتونو دکانګرس له خوا منظور شوې وې، د ښځو د غښتلتیا له پاره ۱۰ ملیون ډالره تخصیص شوې، په سومالیا کې، د ښځو ډلو پر ځایي روغتونونو او د زده کړې پر خدمتونو پر بیا پیل کولو ټینګار وکړ او د ځوانو کسانو د انحلال له پاره یې د مایکرو کوچني – اعتبار اسانتیاوو له پاره پانګه لټوله. ۳۷

په کوسوا کې، د ښځو دوه وېشت (۲۲) موسسې په یو لړ غونډو کې یوځای شوې چې

په سیاسي، ټولنیز او اقتصادي بیا رغوونه کې د بوختېدو په اړوند بحث وکړي. دا د ښځو له پاره یو چمتووالی وو چې په هغه بیا رغوونې فعالیتونو کې چې په اروپا کې د امنیت او همکارۍ له پاره موسسې له خوا (OSCE) یې لارښوونه شوې وه. پایله دا شوه چې شپږ ښځې انتقالي شورا ته معرفي شوې. ۳۸

په ملي پالیسیو او بودیجو نفوذ کول

تر شخړې وروسته موده کې، څرنګه چې نوي وزارتونه تاسیس او ملي بودجې منځ ته راغلې، یو فرصت شته چې داډمنوي په یو لړ مسئلو کې په ملي سطحه د جنس په اړه حساسیت لري. یو اقدام چې په ډېرو هېوادونو کې ترسره شوی، هغه د ښځو د چارو د وزارت (MOWA) تاسیسول دي چې د ښځو پیاوړتیا زیاته او د نورو وزارتونو سره کار وکړي او د ښځو د کار کولو وړتیا داډمنه کړي. دا اندېښنه شته چې دغه وزارت کېدای شي ښځې یوې خواته کړي، خو دا ګټې هم لري چې د ښځو له پاره یو وزارت د وقف شوې بودیجې سره لري. د پرتلې له پلوه، په جنوبي افریقا کې، څرنګه چې وقف (جلا) وزارت نشته، د جنس د برابرۍ په اړه د اساسي قانون لاندې یو کمیسیون جوړ شوی چې د جنس برابري لوړوي، پر قانون سپارښتنه کوي، او د جنس د مساوات خواته د هېواد پرمختګ د نړیوالو فورمونو سره مانیټور کوي ۳۹.
سربېره پردې، ځانګړي وزارتونه، لکه د دفاع وزارت،د جنس مرکزي ټکي لري چې په موسسه کې د جنس برابري لوړوي.
د جنس له بودیجو څخه دفاع او پیلو یو بل اقدام دی چې جنسي لېرې لید په ملي اقتصاد کې سمبالوي. د جنس د بودیجې جوړول یو تمرین دی چې په هغه کې حکومت مالي تخصیصونه مطالعه کوي څو واروزي چې ایا دوی د جنس د برابرۍ لاس ته راوړلو له پاره سرچینې په اغېزمنه توګه کاروي یانه. د بودیجې درې ډوله مواد ازمایل شوي دي: هغه لګښتونه چې د مشخصو جنس نښو سره، د پروګرامونو او پالیسیو له پاره (لکه هغه پروژې چې مستقیماً د ښځو له پاره ډیزاین شوې دي) تخصص شوې، هغه لګښتونه چې د جنس برابري لوړوي او هغه چې د جنس مساوات نورو برخو ته لېږدوي. د ساري په توګه، که د یو هېواد د نفوس ٦٠ فیصده ښځینه وي، چې زیاته برخه د ماشوم زېږېدلو په عمر کې وي، د جنس روغتیایي بودیجه به داډمنه کړي چې کافي پانګې د بیا تولیدوونکې روغتیا پاملرنې ته تخصیص شوې دي. د جنس بودیجې جوړول کېدای شي په حکومت کې ترسره شي، خو دا به ډېره اغېزمنه وي که مدني ټولنه په کې برخه واخلي ٤٠.
هغه پروګرامونه لکه د جنس ځواب ورکوونکي بودیجې نوښت چې UNIFEM یې لارښوونې کوي، د ګډو ګټو سکرټریټ او نړیوال پرمختیایي پلټنې مرکز- داسې سامان یې منځ ته راوړي چې حکومتونو او مدني ټولنو سره د جنس د بودیجې جوړولو تخنیک کې مرسته وکړي چې په زیاتو هېوادونو کې همدا اوس تمرین کېږي. ٤١
په راوندا کې ١٩٩٤ م کال تر ډله ییز وژنې وروسته، ښځو خپله ځان تنظیم کړ او په مدني ټولنه، حکومت او پارلمان کې په اغېزمن ډول ځان ځای پرځای کړ چې د برابرۍ له پاره لاره سمه شوه. دې کار د جنس له پاره لاره پرانیسته چې د فقر د ستراتېژۍ د مطالعې پروسه کې له دریو لومړیتوبونه په یو کې وپېژندل شي. حکومت په بېلابېلو مسئلو کې د جنس د زیانونو په هلــه هر اړخیزه پلټنه (ریسرچ) وکړه. پایلې یې د هر وزارت سره د جنس د خندونو په اړوند تر بحث لاندې ونیول شوې چې دا خنډ،نه څرنګه له منځه یوسي. په نتیجه کې د کرهنې وزارت وپتیله په پراختیایي پروګرامونو کې د ښځو شمېر زیات کړي. د تعلیم او روزنې وزارت په پام کې لري په ښوونځي کې د نجونو محافظت زیات کړي. د ولایتي حکومت جوړښتونه غواړي د ځایي پرېکړو پروسو کې د ښځو استازیتوب لوړه کړي. د بودیجې جوړولو تمرینونه د دې له پار کارول کېږي چې ملکي مامورین وروزي څو د پرېکړو پالیسی د سرچینې د اختصاصولو له لارې پیاوړو عملونو کې شامل کړي. ٤٢

د مرستي او خدمتونو سمبالول

نړيوالي مرستي ته د لاسرسي او د هغې په کارولو کي د نفوذ لرلو بله وسيله داده چې د نړيوال کارکوونکو سره ملګرتيا يا فرعي قرارداد وشي او مرسته او خدمتونه سمبال شي (يعني د عايد له پاره روزنه، د ذهني ټکان سلا، جنسي او بيا توليدوونکي روغتيايي مشوره يا قانوني مشوره او روزنه). دغه مرسته نورو ښځو ته هم ښايي څېرمه شي. د ساري په ډول، يوګنډايي موسسه- د سولي له پاره د خلکو غږ (PVP) د هغو ښځو او ماشومانو سره کار کوي چې د جنګ له کبله ټپي يا معيوب شوي وي. PVP د دوه اړخيزې مرستي ډلي جوړوي، د عايد پيداکولو کي روزنه او د دفاع (وکالت) مهارتونه سمبالوي او خپل غړي د طبي او د مرستو نورو ډولونو سره په تماس کي ساتي ٤٣

په بوسنيا کي د ښځو مېډيکا د تېراپي مرکز د هغو ښځو له پاره طبي او روحي – ټولنيز پاملرني ترکيب وړاندې کوي چې پرې جنسي تېرى يا نور ناوړه بريد شوى وي. په سوډان کې د نايروبي د سوډاني ښځو اتحاديه (SWAN) د نړيوالو مرستندويانو سره په اړيکې نيولو کي ستر رول ولوباوه او کوچنيو او ځايي موسسو ته يې د پانګو په لېږدولو کي اسانتياوې منځ ته راوړې. ٤٣

د شا قمچيني مخنيوى: د دوام وركولو له پاره تکتيکونه او ستراتېژۍ

که څه هم په پراخه اندازه دا بحث شوى چې تعليم، اقتصادي ځواک او د سرچينو پراخولو کي لاسبرې ښځې توانولاى شي په سياسي پرېکړو کي نفوذ وکړي او ټولنيز چلن تر اغېزې لاندې ونيسي، خو په ډېرو قضيو کي داسي نه پيښېږي.ښځې ښايي عايد خپرو کړي، خو دوى خبر نه دي يا نه شي کولاى په سياسي پرېکړو کي اغېزه ولري. سربېره پردې، ترجګړې وروسته ټولنو کي (او په پرمختلونکو ملتونو کي) پر سرچينو د ښځو څارنه او د دوى بريالۍ هڅې د عايداتو په خپرولو کي کولاى شي د دوى په ټولنه کي د نارينه و تر منځ شاقمچينه ايجاد کړي. که په ګوته نه شي، کېداى شي دا د پروژې د ترلو لامل شي. د مرستي مرستندويان او لاس ته راوړونکي بايد

ډاډمن کړي چې، له يوې خوا، د عايد د خپروني پروګرامونه د ښځو ښکاره پياوړتيا اجزا لري څو ښځې لاسبرى ومومي خپل ځاى واستوي او کار وکړي. له بله پلوه، دوى بايد هڅه وکړي چې بالقوه ګواښونه وپېژني او د ښځو پرضد د شامترو کي خطر کم کړي. په کولمبيا کي، په وروسته کلونو کي د اقتصاد په پرمختګ کي د ښځو بوختېدل زيات شو، خو په سياست کي يې اغېزه محدوده شوه، اوس د ښځو موسسي د عايد پيداکولو پروژې د سياسي حقونو روزني او پياوړتيا سره يوځاى کوي.

په سوډان کي، د ښځو ډلو او د کونډو اتحاديې د خواړو تيارول او د کنفرانس اسانتياوې تاسيس کړي چې عايد خپور کړي. څرنګه چې مالکيت د ښځو په لاس کي دى، اداره کول او کارمندان عمدتاً ځايي نارينه دي چې له معاشونو څخه برخمن دي. په افغانستان کي، د ملګرو ملتونو د جنس - حساس پرسونل قومي مشرانو ته ورسپډل او د دوى منل لټوي څو هغه پروګرامونه پيل کړي چې په کليو او بانډو کي د ښځو له پاره عايد پيداکړي.

٥- ستراتيژنکي عمل کول: د ښځو د سولي ودانوونکي څه کولاى شي:

١- په خپل هېواد کي موجوده غوره نړيوال عمل کوونکي او نمايندګۍ تشخيص کړئ او د دوى سره د جنس لېږې ليد له پاره د دوى د اړتياوو د ارزوني او د کار پلانولو کي مشوره وکړئ. دوى خپلې بنيادي ژمنې پرمخبيايي او پر موضوع منځګړتوب کوي.

٢- خپله موسسه وهڅوئ چې پيداکړي کومې ستراتېژۍ د OECD، د ملګرو ملتونو کورنۍ او نورو نړيوالو موسسو له خوا اقتباس شوې دي.

غښتلي کړي:

- د دوى پاليسي، له جګړې وروسته بيا رغوونه کي د ښځو شاملول.
- اجول شوي پانګي؛
- او د مدني ټولني شمول له پاره د دوى متقابل عمل او ژمنه.

٣- د مرستندويانو د غونډې د پروسي سره، د UNIFEM او نورو هغو موسسو سره کار کول چې د ښځو له شمولت پياوړتيا سره مرسته کوي.

٤- د هغو پروګرامونو او پروژو له پاره د وړاندیزونو منځ ته راوړئ چې ستاسې د موسسې پیاوړتیا سره تړاو لري. غوره پانګه ورکوونکي تشخیص کړئ، دوی سره وګورئ او د ملګرتیاوړاندیزونه ورته وکړئ.
٥- په انټرنېټ کې د جهاني شبکو او منابعو پرمخبیول، د نړیوال عمل کوونکو (NGOs، مرستندویان) تشخیصول چې کولای شي ستاسې موسسې سره د بیارغوونې هڅو او د جنس بشپړ سمولو کې ملګرتیا کوي.
٦- د نورو مدني ټولنو موسسو سره یوځای شئ چې د هغو ټولنو له پاره چې د اړتیاوو ارزونه پرمخبیایې، لومړیتوبونه، موجوده مهارتونه او ظرفیتونه او غوره خالیګاوې تشخیصوي ګډ کار وکړئ. پایلې نشر او د ملي او نړیوالو عمل کوونکو ترمنځ یې په پراخه اندازه توذیع کړئ.
٧- د خپل استعداد پر بنسټ هغه روښانه موخې ولرئ چې تاسې یې کولای شئ او هغه چاسره کار وکړئ چې ستاسې اغېزه وزن کړای شي. یو ستراتېژیکي پلان ولرئ او د هغو سیمو له پاره چې غښتلتیا ته ضرورت لري- د پروژې اداره کولو، د معلومات ټکنالوژي، د بودیجې جوړولو د محاسبې په شمول، سوچه پلان جوړ کړئ.
٨- یو شرکت تاسیس کړئ یا یوه موسسه تشخیص کړئ چې پانګې (فنډز) ترلاسه کړي چې کوچنۍ بخښنې ځایي او غیررسمي ډلو کې ولګوي. داډه شئ چې نړیواله ټولنه پر خپل موجودیت پوهیږي.
٩- هغه چې ستاسې د هڅو مخنیوی کوي هغه او نور وپېژنئ. دوی سره یوځای شئ او داسې تکتیک ولوبوئ چې د دوی مرسته ترلاسه کړئ.

**کوم ځای کې زیات معلومات پیداکولا شئ؟**


د OECD/DAC د ۲۰۰۱ م کال لاربښوونې د جګړې مخنیوي له پاره مرسته، <http://www.oecd.org/dataoecd/15/54/1886146.pdf>. د پیکنګ پلاټفارم د عمل له پاره، د <http://www.un.org/womenwatch/daw/beijing/platform/plat1.htm>.

بوټا، څجیرډ او جورج فریرکس، Eds. د جګړې مخنیوی، د شخړې حل او تر جګړې وروسته بیا رغونه کې د ښځو رول: د ادبیاتو مطالعه او تحلیل. کلینجنډایل: د هالینډ نړیوالو اړیکو موسسه، ۲۰۰۲ م کال. د ۲۰۰۴ م کال د سپټمبر ۲۸ <http://www.clingendael.nl/cru/pdf/womens_roles_samenvatting.pdf>.

د جنس مربوطې بودیجې نوښتونه، <www.gender-budgets.org>.

د کار نړیواله موسسه (ILO) د بحران ځواب او بیا رغونه، د http://www.ilo.org/public/english/employment/recon/crisis/index.htm

تر جګړې وروسته د بیا رغوونې د کار چوکاټ، د <http://www.csis.org/isp/pcr/framework.pdf>.

بیا فکر! د دوامداې سولې له پاره لاس کتاب. سټاکهولم، سویډن: کووینا ټېل کوونیا، ۲۰۰۴. د ۲۰۰۴ م کال د سپټمبر ۲۸، <http://www.iktk.se/english>.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام: د بحران مخنیوی او خلاصون له پاره دفتر، <http://www.undp.org/bcpr>. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په مدني ټولنه او UN اړیکو کې د غوره اشخاصو د نومونو لیسټ <http://www.un.org/reform/panel.htm>.

د نړیوال پرمختګ له پاره د متحده ایالتونو نمایندګي (USAID) د جګړې ویب <http://www.usaid.gov/regions/afr/conflictweb>. ښځې، جنګ او سوله، نیویارک: د ښځو له پاره د ملګرو ملتونو پرمختیایي پانګه، ۲۰۰۴. د ۲۰۰۴ م کال د سپټمبر ۲۸، <http://www.womenwarpeace.org/csw/1325_home.htm>..

د نړۍ (جهاني) بانک د جګړې مخنیوي او بیا رغوونې واحد <http://lnweb18.worldbank.org/ESSD/sdvext.nsf/67ByDocName/AboutUS>.

ذوکرمن ایلن، ایلین او مارسیا ګرین برګ، تر جګړې وروسته بیا رغوونې د جنس بعدونه. واشنګټن DC: د جنس قانون، ۲۰۰۴. د ۲۰۰۴ م کال د سپټمبر ۲۸، <http://www.wider.unu.edu/conference/conference-2004-1/conference%202004-1-papers/Zuckerman-Greenberg-0206.pdf>.


**مخففونه:**

| | |
|---|---|
| ADB | اسیایي پرمختیایي بانک |
| AfDB | افریقایي پرمختیایي بانک |
| CAS | د هیواد د مرستې ستراتیژي |
| CCA | د هیواد عامه ارزونه |
| CIDA | کاناډایي نړیوال پرمختیایي بانک |
| CSIS | ستراتېژیکي او نړیوالي مطالعې مرکز |
| DAC | د DECD پرمختیایي مرستې کمېټه |
| DfID | د انګلستان د نړیوال پرمختګ له پاره اداره |

| | |
|---|---|
| DPKO | د ملګرو ملتونو سوله ساتي عملیاتو اداره |
| EBRD | د بیارغوونې او پرمختګ له پاره اروپایي بانک |
| EU | اروپایي اتحادیه |
| FAO | د خوراکي موادو او کرهنیزه موسسه |
| HIV/AIDS | بشر د مصونیت کمبود ویروس/لاس ته راوړل شوی د مصئونیت کمبود سینډروم |
| IADB | امریکا دننه پرمختیایي بانک ډله |
| IASC | نمایندګۍ دننه ثابته کمېټه |
| IBRD | د بیارغوونې او پرمختګ له پاره نړیوال بانک |
| ICSID | د پانګې اچولو د جګړو حلولو له پاره نړیوال مرکز |
| IDA | نړیواله پرمختیایي اتحادیه |
| IFC | نړیوال مالي شرکت |
| JICA | د جاپان نړیوالې همکارۍ نمایندګۍ |
| MDBs | څو اړخیز پرمختیایي بانکونه |
| MDGS | د نېمګړغې پرمختیایي موخې |
| NGO | غیر دولتي موسسه |
| OCHA | د ملګرو ملتونو دوستانه چارو د هماهنګۍ له پاره دفتر |
| OECD | د اقتصادي پرمختګ او همکارۍ له پاره موسسه |
| OTI | د نړیوال پرمختګ له پاره د متحده ایالتونو نمایندګۍ د انتقالي نوښتونو دفتر |
| PCF | تر جګړې وروسته پانګه |
| PRS | د فقر کمولو د ستراتیژۍ پروسه |
| PVP | د سولې له پاره د خلکو غږ |
| SWAN | د سوډاني ښځو د نایروبي ټولنه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNDAF | د ملګرو ملتونو د پراختیا د مرستو پروګرام |
| UNDP | د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام |
| UNICEF | د ملګرو ملتونو د کوچنیانو پانګه |
| UNIFEM | د ښځو له پاره د پراختیا پانګه |
| US | د امرکا متحده ایالات |
| USAID | د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره |

**د پای یادښتونه**

**۱- څرنګه چې د کال ۱۹۹۹ په پرمختیایي مرستې کمېټې (DAC) کې د جګړې، سولې او پرمختیایي همکارۍ کې شوي دي. ۲۰۰٤ م کال، سپټمبر ۲۷**

<http://www1.umn.edu/humanrts/instree/OECDdev.htm>.
تر جګړې وروسته بیارغوونې د کار چوکاټ په
<http://www.csis.org/isp/pcr/framework.pdf>.

۳- Ibid

٤- د نړیوال بانک غړو او موسسو په اړوند د زیات معلومات له پاره
<www.worldbank.org> وګورئ.

٥- ویس، مارټن A. د نړیوال بانک تر جګړې وروسته مرسته: د کانګریس له پاره د سهوې موضوعګانې واشنګټن ډي سي: کنګره اي مطالعې خدمتونه، ۲۰۰٤ م کال
<www.aicpr.org/WBPC.pdf>.

٦- وګوره
<http://www.worldbank.org/gender/module/overview/bank.htm>.

۷- د بشر دوستانه څواب هماهنګي، OCHA پر کرښه، ۲۰۰٤ م کال سپټمبر ۲۷
<http://ochaonline.un.org/webpage.asp?Nav=_coordination_en&Site=_coordination&Lang=en>.

۸- د OCHA په هکله د زیات معلومات له پاره د ۲۰۰٤ م کال سپټمبر ۲۷ وګورئ
<http://ochaonline.un.org/webpage.asp?Nav=_about_en&Site=_about&Lang=en>.

۹- "۳ څپرکی- د جګړې مخنیوی او خلاصون: د شاملولو او حقونو په لور." بشري پرمختګ کې ملګرتیا: UNDP او د مدني ټولني موسسې. نیویارک: د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۰۳
<http://www.undp.org/cso/resource/documents/partnershd/partnershd_ch3.pdf>.

۱۰- د جنس د برابرۍ د کار یاداشت. نیویارک: د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ۲۰۰۲. د ۲۰۰٤ م کال اګست ۱۳
<http://www.undp.org/policy/docs/policynotes/gender-9dec02.doc>.

۱۱- د څو څلیز بعدي سولې عملیات کې د جنس لېږي لید. نیویارک. د ملګرو ملتونو د سولې ساتنې عملیاتو درس زده کولو واحد اداره، ۲۰۰۰. ۲۰۰٤ م کال د اګست ۱۳
<http://www.peacekeepingbestpractices.unlb.org/Nbestpractices.asp?bpr_id=3011>.

۱۲- وګوره
<http://www.un.org/Depts/dpko/dpko/faq/q13.htm>.

۱۳- Ibid

۱٤- د زیات معلوماتو له پاره
وګوره <http://www.un.org/Depts/dpko/dpko/faq/q13.htm>.

۱٥- منبع:
<www.worldbank.org> and <www.developmentgoals.org>.

۱٦- څرنګه چې په – د OECD په هکله ویل شوي دي. ۲۰۰٤ کال د سپټمبر ۲۷
<http://www.oecd.org/about/0,2337,en_2649_201185_1_1_1_1_1,00.html>.

۱۷- په ۲۰۰٤ م کال کې، د DAC غړې استرالیا، استریا، بلجیم، کاناډا، ډنمارک، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، ایرلینډ، ایټالیا، جاپان، لوګسمبرګ، هالینډ، نیوزیلانډ، ناروې، پرتګال، هسپانیه، سویډن، سویټزرلنډ، برتانیه، متحده ایالتونه، او د اروپا کمیسیون وو.

۱۸- څرنګه چې په – د DAC په هکله ویل شوي. ۲۰۰٤ م کال د سپټمبر ۲۷
<http://www.oecd.org/about/0,2337,en_2649_33721_1_1_1_1_1, 00.html>.

۱۹- وګوره
<http://www.oecd.org/document/45/0,2340,en_2649_34567_1886125_1_1_1_1,00.html>.

۲۰- څرنګه چې په- د جنس برابرۍ په هکله ویل شوي. ۲۰۰٤ م کال د سپټمبر ۲۷
<http://www.oecd.org/about/0,2337,en_2649_34541_1_1_1_1_1, 00.html>.

۲۱- د زیات معلومات له پاره پورته یاده شوې وېب پاڼه وګورئ

۲۲- د جنس برابرۍ په اړوند د CIDA پالیسي. کوبیک: کاناډایي نړیواله پرمختیایي نمایندګي، ۱۹۹۹. د ۲۰۰٤ کال د اګست ۱۳
<http://www.acdi-cida.gc.ca/INET/IMAGES.NSF/vLUImages/Policy/$file/GENDER-E-nophotos.pdf>.

۲۳- د فقر کمول او د ښځو پیاوړي کول. لندن: نړیوال پرمختګ له پاره اداره، ۲۰۰۰. ۲۰۰٤ م کال د اګست ۱۳
<http://www2.dfid.gov.uk/pubs/files/tspgender.pdf>.

۲٤- په ټولنې پرمختیایي همکارۍ کې د جنس برابرۍ سمون له پاره د عمل پروګرام..بروسل: د اروپایي ټولنو کمیسیون، ۲۰۰۱. ۲۰۰٤ م کال د اګست ۱۳
<http://europa.eu.int/comm/europeaid/projects/gender/documents/gender_programme_of_action_en.pdf>.

۲٥- د جنس سمون/WID په اړوند د JICA د موضوع لارښوونې. توکیو: د جاپاني نړیوالي همکارۍ نمایندګي، ۲۰۰۲. ۲۰۰٤ م کال د اګست ۱۳
<http://www.jica.go.jp/english/global/wid/pdf/guidelines.pdf>.

۲٦- په ملګرو هېوادونو کې د ښځو او نارینه و ترمنځ د برابرۍ لوړول. سټاکهولم: سویډني نړیوال پرمختیایي همکارۍ نمایندګي، ۱۹۹۷. ۲۰۰٤ م کال د اګست ۱۳
<http://www.sida. se/Sida/jsp/polopoly.jsp?d=656&a=7515>.

۲۷- ښځې، نارینه او پرمختګ، واشنګټن، ډي سي: نړیوال پرمختګ له پاره د متحده ایالتونو نمایندګي، n.d. ۲۰۰٤ م کال د اګست ۱۳
<http://www.usaid.gov/our_work/cross-cutting_programs/wid/pubs/usaidbook.pdf>.

۲۸- کله چې په ۱۹٤٥ م کال د CARE د لومړي ځل له پاره منځ ته راغله، د هغه مخفف اروپا ته د امریکایي بخښنو له پاره د تعاون وو. او اوس هغه د مرستو او هر ځای کې د سوکالی اتحادیې همکارۍ مخفف دی

۲۹- د CCA د مثال له پاره
وګورئ <http://www.unchina.org/html/cca.html>.

۳۰- Weiss

۳۱- به بوسنیا، کوسووا او افغانستان د جګړې وروسته مرستې په اړوند مشاهدې. واشنګټن ډي سي: عمومي محاسبې دفتر، ۲۰۰۳ م کال، جولای
<http://www.gao.gov/new.items/d03980t.pdf>.

۳۲- سورن سن، بریګیټې، ښځې او تر جګړې وروسته بیا رغونه: موضوعګانې او سرچینې، جینوا: UNRISD جنګ ځپلو ټولنو پروژه، ۱۹۹۸

۳۳- Ibid

۳٤- بادن، سالي، "جنس، اداره کول او د فقر ښخینه کول." د ښځو سیاسي ګډون او ښه اداره کول: د ۲۱ مې پېړۍ ننګونې. نیویارک:UNDP، ۱۹۹۹؛ په جګړې اغېزمن شویو هېوادونو کې د ماموریت او مهارتونو روزنې له پاره د ILO د جنس لارښوونې. جینوا: نړیوال کار موسسه، ۱۹۹۸.

۳٥- بادن، ګاردنر، جوډیټ او ایل-بوشرا، جوډي، Eds. سومالیا، ناویل شوې کیسه: جنګ د ښځو د سترګو له لارې. لندن: CIIR/Pluto مطبوعات، ۲۰۰٤ .